مجیب الرحمن ساپی
۲۰۱۱/۱۲/۲۹

# د ایران نوی فشار

د وران کال د لیندۍ میاشتي په نهه ویشتمه نیټه ۱۱ ډلي هیوادونو پرېکړه، څو د ایران پر نفتو بندیزونه ولګوي. د ۱۱ ډلي په هیوادونو کي د امریکا، روسیي، جاپان او ځینو اروپایي هیوادونو برسیره عربي متحده امارات او سعودي عربستان هم شامل دي. باید و ویل شي، چي سعودي عربستان د نړۍ په کچه تر ټولو ستر د نفتو صادرونکی هیواد دی او همدا راز عربي متحده امارات هم د نفتو په صادراتو کي لوړ ځای لري.

د لوېدیځ هیوادونو له لوري سعودي عربستان او عربي متحده امارات د دي لپاره په دغه ډله کي زیات شوي، څو د ایران پر تیلو له بندیز لګولو څخه وروسته دغه دوه هیوادونه د ایران ځای ډک کړي. البته ایران هم د نړۍ په کچه د تیلو څلورم ستر صادرونکی هیواد دی.

د دغه بندیزونو له اعلان څخه څو ورځي نه وې تیر شوي، چي د مرغومي په شپږمه نیټه د ایران سمندري ځواکونو د فارس یا عربو په خلیج کي پوځي مانورې پیل کړې، چي د دغه مانورو په پیل کولو سره ځینو عربي هیوادونو خپلي اندېښني څرګندې کړې او هغه هم د دې لپاره، چي د دغو مانورو له اساسي ځایونو څخه یو هم د هورمز تنګی وو.

د هورمز تنګي اوږدوالی ۱۵۸ کیلو متره سور یې له ۵۶ کیلو مټرو څخه تر ۱۸۰ کیلو مټرو رسیږي. د هورمز تنګی د ګڼي ګوني له مخي د نړۍ دویم تنګی شمیرل کیږي. د امریکا د انرژۍ د اطلاعاتو سازمان د رسمي معلوماتو له مخي په ۲۰۰۹ زېږدي کال کي نړۍ ته د اوبو له لاري د ټولو صادرو شوو نفتو څخه دري دېرش سلنه یې له همدي تنګي څخه تیر شوي دي. د دغه سازمان د معلوماتو پر بنسټ په ۲۰۰۹ زېږدي کال کي هره ورځ پنځه لس ملیونه بوشکي تیل د هورمز له تنګي څخه تیرېدل او له دغي تنګي څخه صادرېدونکي نفتو ډېرى برخه آسیایي هیوادونو، امریکا او د لوېدیځو اروپا هیوادونو ته لیږدول کیږي. همدا راز د جاپان درې پر څلورمه برخه او د چین پنځوس سلنه نفت د هورمز له تنګي څخه لیږدول کیږي.

د خپرو شویو ارقامو له مخي د نړۍ څلوېښت سلنه نفت او همدا راز د فارس (عرب) خلیج د اتو صادرونکو هیوادونو نفت له دغه تنګي څخه تیرېږي.

مخکي مي یادونه وکړه، چي د ۱۱ ډلي هیوادونو د لیندۍ په نهه ویشته نیټه پرېکړه وکړه، څو د ایران پر نفتو بندیزونه ولګوي او ایران هم د فارس یا عرب په خلیج کي د لسو ورځو لپاره د خپلو سمندري ځواکونو مانورې پیل کړې. د دغو مانورو په پنځمه د سه شنبي په ورځ د ایران مرستیال ولسمشر محمد رضا رحیمي خبرداری ورکړ؛ که چیرې د ایران د نفتو پر صادرولو بندیز ولیګیږي، نو ایران به د هورمز تنګی وتړي. همدا راز د ایران د سمندري ځواکونو مشر امیر البحر حبیب الله سیاري د چهار شنبي په ورځ وویل، که چیرې لازمه وي نو د هورمز تنګي تړل دوی ته د یوې پیالي اوبو څښلو څخه هم آسانه ده.

د ایران په واک کي کروز، بالستیک، له ځمکي څخه هوا ته توغندي او همدا راز چټکي کوچنی بیړۍ، چورلکي، اوبتل، جنګي بیړۍ، جیټ الوتکي، الوتونکي بیړۍ او نور تجهیزات دي، چي کولای شي د هورمز تنګي په تړلو کي ورسره مرسته وکړي. همدا راز ځیني کارپوهان په دې باور دي، ایران ممکن د هرموز تنګی د بندولو لپاره له ماینونو او یا هم په بار وړونکو بیړیو له مستقیمو بریدونو څخه کار واخلي.

د ځینو سیاسي – اقتصادي کارپوهانو په آند د ایران له لوري د هورمز تنګي تړل به د ایران لپاره کومه ګټه و نه لري؛ ځکه که چیرې د ایران پر نفتو بندیز لګول کیږي د خلیج څنډې هیوادونه به له ایران سره نه وي.

د ایران دغه خبرداري سره جوخت د سعودي عربستان یوه لوړپوړي چارواکي وویل، چي عربستان به د نړۍ په ځانګړي توګه د امریکا او اروپا د نفتو کمښت پوره کړي او د ایران د نفتو پر ځای به سعودي عربستان د خپلو نفتو صادرات ډېر کړي.

د ایراني چارواکو دغو څرګندونو پر وړاندې په بحرین کي میشت امریکایي سمندري ځواکونو او همدا راز د امریکا دفاع وزیر د ایران دغي کړني له مخنیوي څخه خبر ورکړی دی.

اساسي پوښتنه دا ده، چي آیا ایران به په رښتیا سره دغه تنګي وتړي او آیا ایران د دغي تنګي د تړلو توان لري؟

اوس مهال، چي د ایران سمندري ځواکونه د فارس (عرب) خلیج په اوبو کي په پوځي مانورو بوخت دي او د دغه مانورو له تر سره کیدو سره جوخت ایراني چارواکو د هورمز تنګي د تړلو خبرداری ورکړی په دې معنی، چي ایران غواړي، څو له نړۍ والو بندیزونو څخه ځان خلاص کړي؛ خو پر وړاندې یې بیا ځینو اروپایي هیوادونو ویلي، چي پر ایران به د بندیزونو لګولو ته زور ورکړي، چي دا خپله ایران له نورو جدي ننګونو سره مخامخ کوي. همدا راز که وکتل شي نو په بحرین، قطر، سعودي عربستان او د فارس (عرب) خلیج کي امریکایي ځواکونه میشت دي، چي دا خپله د ایران دغه خبرداري پر وړاندې جدي ننګوني دي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

بله ننګونه، چې کولای شو ترې یادونه وکړه، هغه د فارس (عرب) خلیج څنډې ته پراته هیوادونه دي او د دغه هېوادونو د صادراتو او وارداتو ډېری برخه له همدې تنګي څخه تر سره کیږي او په هیڅ صورت کې به دغه هیوادونه پرې نږدي، څو ایران دې دا شان کړنه تر سره کړي. له بل لوري د ایران له لوري د هورمز تنګي تړل د عربي هیوادونو او همدا راز د لوېدیځ نړۍ پر وړاندې د جګړې اعلان دی. د ایران پوځي توان ته په کتو سره دغه هیواد هیڅ کله هم له لوېدیځو او عربي هیوادونو سره د مبارزې توان نه لري.
ایران په خپلو دا شان څرګندونو او خبرداریو سره غواړي، څو د لګول شویو بندیزونو او همدا راز د هغو بندیزونو، چې ټاکل شوې وروسته پرې ولګیږي کچه را ټیټه کړي؛ خو تر هغه، چې دغه هیواد خپل هسته یي فعالیت نه وي درولی او یا یې نړۍ والو څارونکو ته اجازه نه وي ورکړې، نو شوني به نه وي، چې د دغه هیواد پر وړاندې دې بندیزونه کم شي او د ایران داشان څرګندوني به یوازې لفظي وي او هیڅ کله به هم د دې توان پیدا نه کړي، څو پلي یې کړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ